**هغو افغان ځانګړو کډوالو لپاره معلوماتي پاڼه،**
***چې په یوه خوندي پناه ځای کې د حالت/ حیثیت د تعدیل لپاره د غوښتنې طلب کوي***

متحده ایالاتو ته ښه راغلاست. څنګه چې تاسو خپلو نویو کورونو ته ورځئ او په خپلو محلي ټولنو کې مدغمیږئ، ستاسو روغتیا، خوندیتوب او خیر ښېګڼه به زمونږ لومړیتوب وي.

**ځانګړي کډوال**

که چیرې تاسو باور لرئ، چې د متحده ایالاتو د حکومت په استازولی ستاسو د دندې پر بنسټ د یوه ځانګړي کډوال په توګه د حالت/ حیثیت د تعدیل لپاره د یوه غوښتنلیک د سپارلو مستحق یاست، یا دا چې متحده ایالاتو ته تر راتګ وړاندې مو د کډوالۍ د ځانګړې ویزې د غوښتنلیک پروسه پیل کړې وي، خو بشپړه کړې مو نه وي، تاسو به اړ یاست چې لاندې یاده شوې پروسه بشپړه کړئ:

1. له بهرنیو چارو وزارت سره د ماموریت د مشر (COM) د تصدیق غوښتنه وکړئ.
   - د لا زیاتو معلوماتو لپاره، travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html یا travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/siv-iraqi-afghan-translators-interpreters.html ووینئ.
   - که چیرې تاسو لا دمخه د ماموریت د مشر تصدیق لرئ، دویم پړاو ته لاړ شئ.
2. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري (USCIS) سره فورمه I-360، امریکایي – اسیایي، کونډ(ی) یا ځانګړي کډوال لپاره عریضه ډکه کړئ. په دې پته uscis.gov/i-360 چمتو شوې لارښوونې تعقیب کړئ.
   - تاسو بښایي خپله عریضه له اړینو اسنادو سره (د لومړیتوب له مخې په پي ډي ایف شکل) سکین او په دغه پته nsci360sivapp@uscis.dhs.gov ایمیل کړئ. د مهربانۍ له مخې هغه بریښنالیک پته پکې ولیکئ چې تاسو غواړئ د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) درته یو بریښنایي رسید درواستوي.
   - که چیرې تاسو یوه تصدیق شوې فورمه I-360 لرئ، درېیم پړاو ته لاړ شئ.
3. که چیرې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) ستاسو فورمه I-360تصدیق کړې وي، تاسو بښایي له فورمه I-485، د دایمي استوګنې د ثبت یا د حالت/ حیثیت د تعدیل لپاره غوښتنه سره، د حالت/ حیثیت د تعدیل یا قانوني دایمي استوګنې (ګرین کارډ ترلاسه کولو) لپاره غوښتنه وکړئ. که چیرې تاسو په متحده ایالاتو کې یوه پته لرئ، بښایي د متحده ایالاتو په یوه خوندي پناه ځای کې فورمه I-485 ډکه کړئ څو ستاسو په فورمه I-485 کې شامل شي. که چیرې تاسو په متحده ایالاتو کې کومه پته نه لرئ، بښایي هغه مهال یې ډکه کړئ چې خپل نوي کور ته ورسیږئ او د نوې پتې په اړه وپوهیږئ. که چیرې تاسو له خپلې نوې پتې څخه فورمه I-485 ډکوئ، د لارښوونو لپاره uscis.gov/green-card-for-an-afghan-employed-behalf-us-government یا uscis.gov/green-card/green-card-eligibility/green-card-for-an-afghan-or-iraqi-translator-or-interpreter پتې ته مراجعه وکړئ.
   - تاسو اړ نه یاست چې د فورمه I-485 لارښوونو مطابق د پاسپورت اندازې 2 انځورونه وسپارئ.
   - یاددښت: د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) باید ستاسو د فورمه I-485 تر سپارلو مخکې فورمه I-360 تصدیق کړې.
4. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) به له هغه وروسته تاسو لپاره د مرکې مهالوېش وټاکي، چې تاسو فورمه I-485 وسپارئ.
   - د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري (USCIS) له لورې ټولې چمتو شوې لارښوونې تعقیب کړئ. که چیرې مونږ ستاسو فورمه I-485 تصدیق کړو، مونږ به ستاسو شین کارټ/ ګرین کارډ تاسو ته درواستوو.
   - د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS) به ستاسو د غوښتنلیک پر مخ بیولو کار چټک کړي.